د افغانستان اسلامي امارت

د اقتصادي چارو کمېسيون

د افغانستان اسلامي امارت

د اقتصادي چارو کمېسيون

(۴) مه مصوبه

د ۱۴۴۴هـ.ق کال د جمادي الاول ۲۰مه

د ۱۴۰۱هـ.ش کال د لیندۍ ۲۳مه

---

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال څلورمه غونډه، چهارشنبه د جمادي الاول ۲۰ مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د لیندۍ ۲۳ مه) له غرمې مخکې پر(۱۰:۰۰) بجو په مرمرینه مانۍ کې د عظیم‌الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون رئیس محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ.

په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:

**لومړی موضوع:** په هلمند کې د زمینداوړ کانال پروژه. د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله هدایت: تاسې د زمینداوړ کانال پروژې د تطبیق لپاره پوره کوښښ وکړئ او تر ممکنه حده یوه لاره ورته پیدا کړئ. که نغده بودجه د دغې پروژې لګښتونه نه شي پوره کولای؛ نو په بدل کې ورته یو معدن په نظر کې ونیسئ.

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د هلمند ولایت د زمینداوړ د کانال د پروژې په اړه د تخنیکي کمېټې پر دې نظر چې "د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په همغږۍ او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په مشرۍ د اوبو او انرژۍ وزارت، کانونو او پټرولیم وزارت، ملي پراختیا شرکت او چاپېریال ساتنې ملي ادارې یوه ګډه تخنیکي-مسلکي کمېټه دې په زمینداوړ کې یو ځل بیا مطالعات تر سره کړي او هلته د اوبو د زېرمو په پام کې نیولو سره دې د پروژې د امکان سنجۍ او قیمت ټاکنې په ګډون تر سره شویو مطالعاتو ته نوې کتنه وکړي او د خپلو موندنو رپوټ دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي چې بیا د مشرتابه له محترم مقام سره شریک شي." لا دیر کار وشي او له مسلکي کسانو جوړه کمېټه دې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په مشرۍ د پروژې تخنیکي مسائل او مالي مصارف له سره و ارزوي؛ موظفه کمېټه به وروسته خپل رپوټ د وروستي تصمیم لپاره اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کوي. | موظفه کمېټه | عاجل |

**دویمه موضوع:** د اوبو او انرژۍ وزارت د کمال خان بند د خړوبولو دولتي شرکت د جوړولو، د دغه بند د اوبو د مدیریت او [illegible] د وېش طرحه د چارو اداري لوی ریاست ته استولې ده او د چارو اداري لوی ریاست دا د یو وړاندیز په ترڅ کې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله دفتر ته استولې ده او دوه ګزینې یې وړاندې کړې دي. عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله دویمه ګزینه [illegible] حکم یې کړی دی:" د دوهمې ګزینې مطابق دې د شرکت د ایجاد او د ځمکو د توزیع طرحه د زیات بحث لپاره اقتصادي کمېسیون ته راجع کړل شي؛ هغوی دې هم خپل نظر ورسره ضمیمه کړي؛ وروسته یې موږ ته راجع کړئ."

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۲ | د کمال خان بند او د اړونده کاسې تولې چارې د اوبو او انرژۍ وزارت او د یاد بند د کانالونو او بیالو د اوبو مدیریت او د اړوندو ځمکو د ویش چارې د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو وزارت پورې اړه نیسي.<br>همدا شان، د دې موضوع په اړه د تخنیکي کمېټې نظر تایید دی، په دې توپیر سره چې نوی شرکت به نه جوړېږي او د کمال خان اړوند د کانالونو پاتې چارې به د ملي پراختیا شرکت لخوا د شوي قرارداد له مخې پر مخ بیول کیږي.<br>د کمال خان په ساحه کې د بند د پاتې چارو، کانالونو او بیالو تر تکمیلیدو وروسته د ځمکو ویش پیلیږي.<br>د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې د امارت لخوا یوه رسمي اعلامیه ترتیب کړي او د ملي تلویزیون او محلي رادیوګانو له لارې دې ولس ته دا وضاحت ورکړل شي چې د قوش تیپې کانال او نورو کانالونو اړوند د ځمکو د توزیع په اړه رواني ګنګوسې حقیقت نلري او هیڅوک حق نلري چې د یادو کانالونو اړوند د ځمکو په حساب د چا سره د توزیع معامله وکړي یا هم په دې نامه له خلکو څخه پیسې او اسناد راټول کړي. که چا د کانالونو د ځمکو د ویش په نامه له ولس څخه پیسې یا اسناد واخستل، نو د حکومت لخوا به د جدي او قانوني چلند سره مخ کیږي. | د اوبو او انرژۍ، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، مالیې، اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونه، ملي پراختیا شرکت | عاجل |

دریمه موضوع: د اوبو او انرژۍ وزارت د ذخیروي بندونو د تخریب او ماتېدلو د مخنیوي، ساتنې او پاملرنې لپاره د بودجې غوښتنه کړې ده. عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله داسې حکم صادر کړی دی:"موضوع اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه د حل لاره ورته پیدا کړئ موږ ته یې راولېږئ."

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۳ | د اوبو او انرژۍ وزارت د بودجې د غوښتنې په اړه د تخنیکي کمېټې دا نظر چې "د اوبو او انرژۍ وزارت دې له مالیې وزارت سره په ګډه کار وکړي او هغه بندونه دې په ګوته کړي چې بېړني ترمیم ته اړتیا لري او بیا دې د ملي بودجې له لارې د دغه راز بندونو د ترمیم، ساتنې او څارنې لپاره بودجه ځانګړې کړي." تایید دی. | د اوبو او انرژۍ او مالیې وزارتونه | دوې میاشتې |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

د افغانستان اسلامي امارت

**څلورمه موضوع:** د شرکتونو د تضميناتو، تامیناتو او طلباتو د ورکړې څه رنګوالی.

| | پریکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۴ | د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۳ هـ.ق کال د رمضان المبارک د ۲۳ مې نېټې د شپږمې مصوبې د فیصلې پر اساس، د اقتصادي معاونیت، مالیې وزارت او د افغانستان بانک لخوا د نورو اړونده وزارتونو، ادارو او خصوصي سکتور سره په مشوره د خصوصي شرکتونو د تضميناتو، تأميناتو او طلباتو د استرداد څه رنګوالی تایید دی. یاده موضوع دې د کابینې غونډې ته هم وړاندې شي.<br>د مالیې وزارت او د افغانستان بانک دې د نورو ارګانونو سره په همکارۍ د یادو تضميناتو، تأميناتو او طلباتو د ورکړې څه رنګوالی د ترتیب شویو موادو مطابق اجراء کړي. | مالیې وزارت، د افغانستان بانک، اړونده وزارتونه او ادارې | عاجل |

**پنځمه موضوع:** په خپل سر د تاسیساتو، فابریکو او مارکېټونو د تړلو په اړه د ۱.۱.۱ د عالیقدرامیرالمؤمنین حفظه الله هدایت: "هېڅوک نه شي کولای چې په خپل سر تاسیسات، فابریکې او مارکېټونه وتړي او یا یې بربېښنا پرې کړي. که کومه اداره شکایت لري، موضوع دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي." په دې اړه د مالیې وزارت نظریات.

| | پریکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ۵ | د غذایي موادو، درملو او نورو توکو د کیفیت او قیمتونو د کنترول او د مالیاتو او مالي باقیداریو د حصول په موخه د تاسیساتو، فابریکو او مارکېټونو د بندولو او د جریمې د جواز په اړه دې د ټولو وزارتونو او ادارو لخوا په ګډه، د شرعي دلایلو پر بنا یوه طرح جوړه شي او د یادو وزارتونو او ادارو څخه دې د علماء کرامو یو هیئت یاده طرح، اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>تر هغو چې یاده چاره ترسره کیږي، د تاسیساتو، فابریکو او مارکېټونو بندول به د اقتصادي کمېسیون د مشر لخوا ترسره کیږي. | اقتصادي معاونیت، اړونده وزارتونه او ادارې | عاجل |

**شپږمه موضوع:** د هرات په ګمرک او اسلام کلا بندر کې او همدارنګه د هېواد په نورو ګمرکونو او بندرونو کې له لسو کلونو د کمنته ماډل موټرو او همدارنګه د ښي لاس هغو موټرو چې تېرې ادارې د پنځو کلونو اسناد ورکړي وو، خو وخت یې پوره شوی دی او تېرې ادارې ضبط کړي دي. همداراز، هغه موټر چې ترافیکي پېښې یې کړې دي او تېرې ادارې ضبط کړي دي؛ د دغو ټولو موټرو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په هدایت تاکل شوي پلاوي خپل رپوټ د عالیقدر مشرتابه محترم حضور ته وړاندې کړی دی. عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله اقتصادي کمېسیون ته امر کړی چې دا موضوع وڅېړي او خپل نظر دې ورسره شریک او ورکولو لپاره دې کړنلاره جوړه کړي چې بیا وروسته تصمیم ونیول شي.

Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

| | پرېکړه | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| ٦ | د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د ۱۴۴۳ هـ.ق کال د ۲۷ مې مصوبې د فیصلې پر اساس، د هیواد په گمرکونو کې د درول شویو او نورو نامحصول شویو موټرو د محصول کولو په موخه د ترانسپورتي ستونزو د حل په موخه د ۱.۱ امارت د ترانسپورتي چارو د تنظیم کمېسیون لخوا د برابر شوي راپور پر اساس جوړه شوې طرح دې تطبیق او عملي شي او اړونده چارې یې دې د تاکل شوي هیئت لخوا تعقیب شي. | اقتصادي معاونیت، اقتصاد وزارت، د مالیې وزارت، د صنعت او تجارت وزارت، د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت، د کورنیو چارو وزارت | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat